بسم الله الرحمن الرحیم

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یکشنبه ۲۵ لیندۍ ۱۴۰۳ هـ ش | ۱۳ جمادی الآخره ۱۴۴۶ هـ ق | ۱۵ دسمبر ۲۰۲۴ م | مسلسله شمېره (۸۴)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس ځلورو شمالي ولایتونو ته د سفر پر مهال د (۴۵) جزائي دوسیو په اړه وروستي تحقیقات بشپړ کړل

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) چې محترم مفتي عبدالحی (شاکر) او محترم مفتي فضل الرحمن (قاسمي) یې ملتیا کوله، د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدایت د هېواد ځلورو شمالي ولایتونو (بلخ، فارياب، جوزجان، او سرپل) ته د سفر پر مهال د (۴۵) مهمو جزائي دوسیو په اړه لازم او وروستي تحقیقات بشپړ کړل.

د جزاء دیوان عمومي رئیس د دغه نهه ورځني سفر پر مهال یادو ولایتونو کې د (۴۵) جزائي دوسیو په اړه وروستي او لازم تحقیقات بشپړ کړل.

محترم مفتي عتیق الله (درویش) په یاد سفر کې د بلخ، فارياب، جوزجان، او سرپل ولایتونو د مرافعه محاکمو له قضائي غړو سره وکتل؛ د جزائي موضوعاتو د حل او فصل په موخه یې ورسره تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د یاد سفر پر مهال د جزائي دوسیو له جانبینو سره وکتل او له هغوی یې د دوسیو په اړه بشپړ تحقیقات وکړل.

په دې سربېره محترم مفتي عتیق الله (درویش) او ورسره مل پلاوي د بلخ، فارياب، جوزجان له والي صاحبانو او د سرپل له مرستیال والي سره او د یادو ولایتونو د علماوو شوراګانو له رئیسانو سره وکتل، د ولایتي ادارو د مسؤولینو ترمنځ د همغږۍ د تقویې پر لارو چارو یې تفصیلي خبرې وکړې.

د سترې محکمې د جزا دیوان رئیس په یادو لیدنو کې وویل، د اسلامي نظام اداري د ځنځیر د کړیو مثال لري، هره اداره د خپلو چارو ترسره کولو په موخه د نورو ادارو موجودیت، همکارۍ او همغږۍ ته اړتیا لري؛ بناءً له ټولو ولایتي اداري مسؤولینو زموږ غوښتنه ده چې د مخکې په څېر خپلو منځو کې قوي همغږي ولري، له یو بل سره د اصولو په رڼا کې همکاري وکړي او د یو بل په چارو کې له لاس وهنې ډډه وکړي.

محترمو والي صاحبانو په خپلو ولایتونو کې د اداري مسؤولینو ترمنځ د قوي همغږۍ د موجودیت ډاډ ورکړ وویل، په دغه ولایتونو کې ټولې امارتي اداري هڅه کوي د اصولو په رڼا کې له یو بل سره همکاري او همغږي ولري، موږ ژمن یو چې د مخکې په څېر له محاکمو سره د پرېکړو د تطبیق او نورو برخو کې لازمه همکاري وکړو.

## خلاصهٔ گزارش اجراآت عمدهٔ ریاست عمومی دفتر مقام عالی ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش

ریاست عمومی دفتر مقام عالی ستره محکمه در جریان ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

- به تعدداد (۱۶۰) تن مراجعین از طرف مدیریت پذیرش ثبت و راجستر شده و به شعبات مربوط ریاست رهنمائی گردیده‌است؛ همچنان طبق معمول همه روزه تعدادی از مراجعین که کارهای شان تحت کار این ریاست قراردارد از طرف مسؤولین غرفهٔ نمبر (۱۲) این ریاست بعد از اخذ معلومات از مدیریت عمومی تحریرات برای آنها جواب داده می‌شود .
- کمیتهٔ رؤیت که هلال طبق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) ایجاد گردیده‌است در وقت وزمان معین جلسات آن تشکیل گردیده‌است.
- کمیتهٔ نصاب تعلیمی جریان دارد و طبق آجنداء در جریان ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش نیز در وقت تعین شده جلسات دائر نموده‌است.
- کمیسیون بازنگری نهائی سندهای اصولی در این ربع به تعداد (۲۱) مسوده را بازنگری نموده و ذریعهٔ صادره (۱۴۵۳) مؤرخ ۱۴۴۶/۲/۳ غرض توشیح به مقام محترم عالی رهبری امارت اسلامی افغانستان ارسال نموده‌است.
- به تعداد (۲۰٤۳) قطعه مکاتیب و پیشنهادات از محاکم مرکز و ولایات، وزارت خانه‌ها، ادارات مستقل امارتی به این اداره مواصلت ورزیده و بعد از اخذ هدایت مقام محترم ستره محکمه غرض اجراآت بعدی به مراجع مربوطه ارسال گردیده‌است.
- به تعداد (٤۰٥) جلد دوسیه‌های جزائی طبق متحدالمآل شماره (۳۸) مؤرخ ۱۴۴۴/۶/۴ ریاست عمومی دارالانشاء غرض اخذ هدایت مقام عالی برای تطبیق جزاء های تعزیری و موضوعات حقوقی که ایجاب حکم مقام عالی را میکرد بعد از اخذ هدایت جهت اجراآت بعدی به مراجع مربوطه آن ارسال گردیده‌است.
- به تعداد (۷۴۹) جلد دوسیه و مکاتیب ریاست‌های مرکزی، مرافعه و زون‌های چهارگانهٔ شهری کابل به مراجع مربوطه شان ارسال گردیده‌است.

## خلاصهٔ گزارش اجراآت عمدهٔ ریاست عمومی تدقیق ومطالعات ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش

ریاست عمومی تدقیق ومطالعات ستره محکمه در جریان ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

- ابراز نظر در مورد(۳٥۲) موضوعات استهدااآت جزائی، تجارتی، مدنی، وثایق متفرقه، گزارشات تفتیش قضائی، مکتوبی و مستردی.
- طرزالعمل جمع آوری توحید گزارشات، طرزالعمل نظارت وارزیابی پروژه ها و برنامه‌ها و رهنمود کلینیک صحی ستره محکمه از سوی مدققین قضائی ترتیب گردید و غرض مطرح ساختن به شورای عالی ستره محکمه ذریعهٔ مکتوب به ریاست عمومی دارالانشاء ارسال گردید.
- مقررهٔ حقوق و امتیازات کادر قضائی و لایحهٔ محاکم نظامی تحت غور و تحقیق مدققین قرار گرفت و ترتیب و نهائی گردید؛ غرض مطرح ساختن در شورای عالی به ریاست عمومی دارالانشاء ارسال گردید.
- یک تن از مدققین قضائی این ریاست به منظور اشتراک در کمیسیون تهیهٔ اصول قضیهٔ کابل بانک ذریعهٔ مکتوب به حیث نماینده به اکادمی علوم امارت اسلامی افغانستان معرفی گردید.
- یک تن از مدققین قضائی این ریاست منحیث نماینده ذریعهٔ مکتوب درکمیسیون مندرج مادهٔ ششم قانون جمع آوری گدایان و جلوگیری از تگدی و تطبیق بهتر مواد (۲۲ و ۲۳) قانون مذکور به وزارت محترم داخله معرفی گردید.
- مسودهٔ قرائن تحقیق معاصر را مدققین قضائی این ریاست ترتیب و تنظیم نموده و ذریعهٔ مکتوب به معاونیت قضائی ستره محکمه ارسال گردید.
- مقررهٔ اجراآت و فعالیت‌های ریاست عمومی تفتیش توسط مدققین قضائی تحت غور و تحقیق قرار گرفته بعد از ترتیب و تنظیم جهت نهائي شدن آن به معاونیت قضائی ستره محکمه ارسال گردید.
- مقررهٔ فعالیت ریاست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ترتیب و تنظیم گردیده است؛ غرض تصویب شورای عالی ستره محکمه به ریاست عمومی دارالانشاء ارسال گردیده‌است.
- مقررهٔ معاونیت اداری پس از غور و تحقیق توسط مدققین قضائی این ریاست ترتیب وتنظیم شد و جهت مطرح نمودن در شورای عالی به ریاست عمومی دارالانشاء ارسال شد.
- مقررهٔ سلوک قضائی برای قضات تحت کار این ریاست قرار دارد.

**په نبوي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:**

**۶- عَمرو بن العاص بن وائل رضي الله عنه:**

**دوهمه برخه**

او عمرو بن العاص هغه څوک دی، چې قریشو نجاشي(د حبشې باچا) ته د مسلمانانو د ورسپارلو لپاره لیږلی و، چې دوی ته ورغلي مسلمانان کې جعفر بن ابي طالب او نور ملګري هم شامل وو، خو هغه دا کار ونه کړ او وویل: اې عمرو! تاسو څنګه د خپل اکا زوی څخه جلا کېدلی شئ؟ زما دې د الله جل جلاله په ذات قسم وي، چې بې شکه هغه په حق سره د الله رسول دی.

عمرو وویل: ته داسې وایې؟ نجاشي وویل: هو، د الله په ذات قسم کوم، نو زما خبره ومنه، هغه هم له ده څخه روان شو او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته یې هجرت کړ او د خیبر په کال په اسلام مشرف شو او ځینو ویلي دي: چې د نجاشي پر وړاندې یې اسلام راوړ او بیا وروسته یې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته هجرت وکړ او ځینو ویلي: چې د ده اسلام د فتحې کال څخه شپږ میاشتې وړاندې د صفر په میاشت کې و او د هجرت اراده یې د نجاشي سره د ملاقات وخت کې کړې وه، مګر تر دغه وخته پورې وځنډېدی، چې بیا نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ته دی(عمرو بن العاص)، خالد بن ولید او عثمان بن طلحه العبدري راغلل، نو تر ټولو وړاندې والی خالد (رضي الله عنه) وکړ، اسلام یې قبول کړ او بیعت یې وکړ، بیا عمرو (رضي الله عنه) مخکې شو، اسلام یې قبول کړ او په دې بیعت ده ته په وړاندې ښېزونو بخښنه کېږي، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل:« اسلام او هجرت ټول مخکني ښېزونه له منځه وړي».

اخذلیک: تتمة النظام، ۴۹ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## حکم جزای تعزیری بالای شش مجرم و متهم در ولایت غور تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان جزا محکمهٔ مرافعهٔ ولایت غور به تاریخ ۲۵/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق به شمول یک زن بالای دو تن به جرم فساد اخلاقی و چهار تن دیگر که متهم بر زنا و لواطت بودند، در استدیوم ورزشی حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان جزا از جمله مجرمین و متهمین دو مجرم را با پنج - پنج ماه حبس تنفیذی و ۲۵ - ۲۵ دُره جزای تعزیری، یک متهم را با چهار ماه حبس تنفیذی و ۳۰ دُره جزای تعزیری، یک متهم را به دو سال حبس تنفیذی و ۲۷ دُره جزای تعزیری، متهم سوم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری و متهم دیگر را به ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود.

این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای مجرمین و متهمین در محضر عام تطبیق گردید.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی کوه البرز ولایت بلخ به تاریخ ۲۵/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق بالای دو تن که متهم بر لواطت بودند؛ در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه متهمین مذکور را به چهار- چهار سال حبس تنفیذی و ۳۵- ۳۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق شد.

درگردهمایی که به همین منظور دایر گردیده بود، قضات و منسوبین محاکم، مسؤولین ادارات ولسوالی و تعدادی کثیری از اهالی ولسوالی مذکور حضور داشتند.

گردهمای با تلاوت چند آیات از کلام الهی آغاز گردید؛ بعداً ولسوال، رئیس و مفتی محکمهٔ ابتدائیه و مدیر امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولسوالی مذکور صحبت نمودند؛ تطبیق حکم شریعت را بالای مجرمین و متهمین سبب اصلاح مجرمین و مهمین و همچنان عبرت به دیگران دانسته گفتند که اجرای آن موجب امنیت و فلاح جامعه میگردد.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی پشتونکوت ولایت فاریاب به تاریخ ۱/ ۶/ ۱۴۴۶هـ ق بالای یک تن که مرتکب جرم روابط نامشروع گردیده بود؛ در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه مجرم مذکور را به سه سال حبس تنفیذی و ۳۹دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه با در حضورداشت محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فاریاب، اعضای قضائی، مسؤولین ملکی و نظامی و جمع کثیری از مردم عام بالای مجرم تطبیق شد.

## په میدان وردګ ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس په ۱/ ۶/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه یو تن ته چې پر غلا متهم و، په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد متهم پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۲دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د جلریز ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس محترم مفتي رحمت الله (نعماني) او نورو قضائي غړو، د جلریز ولسوال محترم مولوي محمدجان (محمدي) د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدو او نورو امارتي ادارو مسؤولینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې مسؤولینو د تعزیري سزاګانو د تطبیق پر ګټو او یو شمېر نورو موضوعاتو خبرې وکړې.

د غونډې په وروستیو کې پر متهم د تعزیري سزا حکم چې د سترې محکمې عالي مقام هم تائید کړی و تطبیق شو.

غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای پنج متهم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان جزا محکمهٔ مرافعهٔ ولایت کاپیسا به شمول یک زن بالای پنج تن که متهم بر زنا و لواطت بودند؛ به تاریخ ۲/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان جزا از جمله متهمین ذکر شده، سه متهم را به یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری، متهم چهارم را به یک سال حبس تنفیذی و ۲۰ دُره جزای تعزیری و متهم پنجم را به دو سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود.

در جلسهٔ که به همین منظور دایر گردیده بود، محترم مولوی عزیز الرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعه، مفتی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمهٔ شهری، قضات و کارمندان اداری محاکم مرافعه و شهری، نمایندگان مقام ولایت، ریاست استخبارات، قوماندانی امنیه و تعداد کثیری از مردم عام حضور داشته‌اند.

این جلسه به تلاوت چند آیت از کلام الله مجید توسط شیخ صلاح الدین مدرس مدرسهٔ جهادی افتتاح گردید؛ بعداً رئیس محکمهٔ شهری به سخنرانی پرداخت گفت، در طول ۲۰ سال مبارزه آرمان شهداء و مجاهدین همین بود، که روزی احکام و حدود الهی تطبیق شود و الحمدلله امروز شاهد آن هستیم.

موصوف خطاب به مجاهدین گفت، شما پایه های این نظام هستید، مسؤولیت خطیر و سنگین بر عهدهٔ شماست؛ اگر قضات حدود و تعزیرات را اجرا می‌کند، در این بخش به همکاری شما نیاز است، و ما از همه پرسونل امنیتی و استخباراتی که شب روز مصروف خدمت به خلق الله هستند، تشکری میکنم.

در پایان جلسه محترم مولوی عزیز الرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعه چند سخن انگیزشی و هدف از اجرا تعزیرات برای مردم بیان نمود.

این جلسه به دعاء خیر به اختتام رسید.

## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون لخوا دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې څلورم زون د جزا دېوان الف جزء د پرېکړې له مخې دووکسانو ته چې پر زنا متهم وو؛ نن شنبې ۵ / ۶ /۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

جزا دېوان یاد متهمین پر درې- درې کاله تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتشینو د تخار ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت د محترم مولوي اسحاق (سادات) په مشرۍ د قضائي پلټنې یوه پلاوي چې مولوي عبدالبصیر (غزنوي) او مولوي کمال الدین (متقي) په کې د غړیو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۸ مه نېټه د تخار ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي د سفر او لیدنې په پیل کې د تخار ولایت د مرافعه محکمې له محترم رئیس سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو ستونزو د څېړلو په موخه د یاد ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه، د یاد زندان اړوند د ټولو بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت، شکایتونه، ستونزې یې له ځان سره ولیکل او بیا یې د اړوند محاکمو له مسؤولینو سره شریک کړل.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د تخار ولایت د (۱۶) ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د وثایقو آمریت، حقوقو مدیریت او ځانګړې محکمې څخه په جلا جلا ډول لیدنه وکړه.

دغه پلاوي د څارنې بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتیش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره ولیکل او د لیدنې په وروستیو کې یې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د تخار ولایت د مرافعه محکمې د ریاست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ځینې ستونزې یې په جلا جلا توګه ورسره شریکې کړې.

دغه پلاوي د څارنې او لیدنې په دوام د یاد ولایت د ولسوالیو له مسؤولینو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختګ او د ځینو اړونده ستونزو د حل په موخه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

یاد پلاوي د تخار ولایت د محاکمو پر وړاندې د شته ستونزو دقیقه او هر اړخیزه څېړنه وکړه.

د قضائي تفتیش د څارنې او پلټنې پلاوي له لاسته راوړنو ډک دغه سفر د ۱۴۴۶هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۲۹ مه نېټه پای ته ورسېد.

## د پکتیکا ولایت د ډیله ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو د دووکورنیو ترمنځ (۳۰) کلنه دښمني پای ته ورسېده

د پکتیکا ولایت د ډیله ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې مسؤولین له ډېرو هڅو وروسته وتوانېدل چې په ۲۸/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه د دوو کورنیو ترمنځ د قتل پېښې له امله رامنځته شوې دښمني چې له تېرو ۳۰ کلونو راهیسې یې دوام درلود حل او پای ته ورسوي.

یاده دښمني ۳۰ کاله مخکې د ډیله ولسوالۍ په دولت خان کلي کې د یو سړي د قتل له امله د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې وه؛ چې د ابتدائیه محکمې د مسؤولینو د ډېرو هڅو او نېکو توصیو په پایله کې جانبین سولې ته راضي او دغه دښمني یې رسماً پای ته ورسېده.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې دواړو کورنیو ژمنه وکړه، چې نور به خپل ژوند د دوستۍ په فضا کې په خوښۍ سره تېروي.

## محاکم ولایات کاپیسا و نیمروز طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۰۳) دوسیه، به تعداد (۲۵۱) وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایات کاپیسا و نیمروز، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، محاکم ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش جزائی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۸) دوسیۀ جزائی وارد محاکم فوق الذکر گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۵۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد شده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۵۷۰) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم فوق الذکر گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۶۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۱) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**
در جریان دو هفته در محاکم ولایت کاپیسا و نیمروز به تعداد (۲۵۱) وثایق نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې (۶۱۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۰۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۴/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې څخه تر ۲۶/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې) پورې (۶۱۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۰۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**
د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۳۸۰) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.
له دې جملې څخه د (۲۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۷) دوسیې فیصله شوې، (۷۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**
د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۷۵) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.
له دې جملې څخه د (۱۰۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۸) دوسیې فیصله شوې، (۱۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**
د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۰۹) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د لغمان او بدخشان ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې (۱۱۶۵) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د لغمان او بدخشان ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۲۱/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۲۱/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۱۱۶۵) دوسیو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**
د لغمان او بدخشان ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۹۸۵) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.
له دې جملې څخه (۲۵۱) عرض‌پاڼې اصلاح او ابرا شوې، (۲۰۸) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۳۰) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۴۹۶) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**
د لغمان او بدخشان ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۱۸۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.
له دې جملې څخه (۱۷) دوسیې تطبیق شوې، (۳۳) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۲۰) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۱۰) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر اجراآتو لاندې دي.

## د میدان وردګ او کندوز ولایتونو محاکمو په یوه میاشت کې (۱۱۸۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ او کندوز ولایتونو مرافعه محاکمو، ښاري ابتدائیه محاکمو او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې څخه تر ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق نېټې پورې (۱۱۸۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**
په تېره یوه میاشت کې د میدان وردګ او کندوز ولایتونو محاکمو ته (۷۰۱) حقوقي دوسیې راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.
له دې جملې څخه د (۵۳۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹۱) دوسیې فیصله شوې، (۵۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**
په تېره یوه میاشت کې د میدان وردګ او کندوز ولایتونو محاکمو ته (۴۰۱) جزائي دوسیې راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.
له دې جملې څخه د (۲۴۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۷) دوسیې فیصله شوې، (۱۵) دوسیې مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**
یادو محاکمو په تېره یوه میاشتې کې د (۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر کړي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:
د میدان وردګ او کندوز ولایتونو محاکمو په یوه میاشت کې (۶۵۵) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۴۸) دوسیه، به تعداد (۳۴۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمۀ مرافعه، وثایق، محکمۀ ابتدائیۀ شهری و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**
در جریان یک ماه به تعداد (۵۳۰) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۳۶۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۳) دوسیه فیصله شده، (۱۳۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**
در جریان یک ماه به تعداد (۲۰۵) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۱۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۹) دوسیه فیصله شده، (۲۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**
در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۳۴۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایات غور و بامیان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۱۶) دوسیه، به تعداد (۲۷۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایات غور و بامیان، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، محاکم ابتدائیۀ شهری، محکمۀ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۲) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم ولایات غور و بامیان گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۱۷۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۸) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۷) دوسیۀ جزائی وارد محاکم ولایات غور و بامیان گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.
از آن جمله در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۸) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**
در جریان دو هفته در محاکم ولایات غور و بامیان به تعداد (۲۷۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایات غزنی و فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۶۴۳) دوسیه، به تعداد (۷۱۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایات غزنی و فاریاب، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، محاکم ابتدائیۀ شهری، محکمۀ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۴۰۱) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم ولایات غزنی و فاریاب گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.
از آن جمله در رابطه به (۲۶۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۴) دوسیه فیصله شده، (۲۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**
در جریان دو هفته به تعداد (۲۸۹) دوسیۀ جزائی وارد محاکم ولایات غزنی و فاریاب گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.
از آن جمله در رابطه به (۹۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**
در جریان دو هفته در محاکم ولایات غزنی و فاریاب به تعداد (۲۴۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشتکې درې ځله چاپیږي

## په خوست ولایت کې (۱۳) مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه




د خوست ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان، د نادرشاه کوټ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې او د خوست ښاري ابتدائیه محکمې د عامه امنیت دیوان د پریکړو له مخې د جمادی الأولی میاشتې په ۱۹مه او ۲۹مه او د جمادی الآخره میاشتې په لومړۍ نېټه (۱۳) کسانو ته د نامشروع اړیکو، اخلاقي فساد، فریبکارۍ، رشوت اخیستلو په جرم او د لواطت په تور په عام محضر کې تعزیري سزاګانې ورکړل شوې.

د یادو کسانو له ډلې ښاري ابتدائیه محکمې جزا دیوان دوه مجرمین له دوولس تر اتلس میاشتو تنفیذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُرو، درې متهمین پر څلور- څلور کاله تنفیذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُرو، څلور مجرمین پر یو- یو کال تنفیذي بند او ۳۵ ـ ۳۵ دُرو تعزیري سزا، یو مجرم پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا، یو مجرم پر یوه کال تنفیذي بند او (۳۹) دُرو او د نادرشاه کوټ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې دوه مجرمین په ۳۹ـ ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو.

د یادونې وړ ده چې یادې پرېکړې د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو او متهمینو تطبیق شوې.

## خلاصۀ گزارش اجراآت عمدۀ ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش

ریاست عمومی دارالانشـاء در جریان ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش اجراآت ذیل را انجام دادهاست:


- به تعداد (۳٦۷) موضوعات مربوط به تبدیلی محکمه را رسیدگی نمودهاست.
- به تعداد (۱٥۹) موضوعات مربوط استهداء را رسیدگی نمودهاست.
- به تعداد (۲٥٥) موضوعات مربوط متفرقه را رسیدگی نمودهاست.
- به تعداد (۳۰) موضوعات مربوط به تنازع صلاحیت را رسیدگی نمودهاست.
- به تعداد (۱۹۳) موضوعات مربوط به تخلفات قضات را رسیدگی نمودهاست.
- به تعداد (۸۸) موضوعات مربوط به تجدید نظر را رسیدگی نمودهاست.
- همچنان موضوعات مختلف متفرقۀ دیگر که به این ریاست مواصلت ورزیده بود مطابق اصول به آن رسیدگی شده و به مراجع مربوطه ارسال گردیدهاست.
- در رابطه به ساختار دیتابیس ریاست عمومی دارالانشاء یک سلسله اجراآت اصولی با وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی شریک ساخته شده و آن وزارت نمایندۀ خویش را معرفی نموده بود، که بعداً معلومات دیتابیس ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه جهت کار عملی آن به نمایندۀ آن وزارت شریک شدهاست.

## خلاصۀ گزارش اجراآت عمدۀ ریاست عمومی تعلیمات قضائی ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش

ریاست عمومی تعلیمات قضائی در جریان ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش اجراآت ذیل را انجام دادهاست:

- از طرف ریاست عمومی تعلیمات قضائی ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش، برنامۀ آموزشی (٤۳) روزه برای (۳٦) تن قضات، مفتی ها و محررین جدیدالتقرر مرکز ستره محکمه و محاکم ولایات کابل، نورستان، ننگرهار، بغلان، کندز، تخار، پکتیا، لغمان، جوزجان، بدخشان، کنر، کاپیسا، سرپل، فاریاب و سمنگان برگزار گردیده است.
- از طرف ریاست عمومی تعلیمات قضائی ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ ش برنامۀ آموزشی (۳۰) روزه برای (٤۲) تن قضات، مفتی ها و محررین برحال و جدیدالتقرر محاکم ولایت تخار، بدخشان، فاریاب، لوگر، سمنگان، پکتیکا، کابل و پکتیا برگزار گردیدهاست.









میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳